# افسیسیانو ته د پولوس رسول لیک

## د کتاب پېژندنه

افسیس د روم د امپراتورۍ یو لوی ښار ؤ چې پولوس په کې دوه کاله د عیسی مسیح زېری ورساوه. څو کاله وروسته هغه وخت چې پولوس مسیح ته د خدمت کولو له امله په زندان کې ؤ، د افسیس کلیسا ته دا لیک ولیکه. دا لیک په دوه برخو وېشل شوی دی. لومړۍ برخه یې د زېري په کیسې باندې ټینګار کوي او دوهمه برخه په دې باندې ټینګار کوي چې زېری څنګه زمونږ په شخصي ژوند، زمونږ په ټولنې او زمونږ په کورنیو باندې اغیزه کوي.

پلار خدای د ازل نه دا نقشه درلودله چې هغه به مونږ د خپل فضل له مخې په خپلې سپېڅلې کورنۍ کې شامل کړي. په حقیقت کې د خدای په اراده ټول شیان هم په دې دنیا کې او هم په راتلونکې دنیا کې د مسیح په اختیار کې ورکړل. د هغه د فضل په وسیله د خدای په کورنۍ کې اوس یوازې یهودیان نه بلکې غیریهودیان هم شامل دي. هغوی پخوا د خدای د هغو وعدو نه چې د خپلو خلکو سره یې کړې وې بې‌برخې شوي وو. خو اوس چې د مسیح د مرګ په وسیله یهودیان او غیریهودیان دواړه کولای شي لکه د خدای د کورنۍ د غړو په شان یو د بله سره په سوله او سلامتۍ کې ژوند وکړي، یو نوي انسانیت جوړښت موندلی دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خدای په کورنۍ کې یووالی موجود دی، خو همدارنګه په هغو نعمتونو او تحفو کې چې د کلیسا د ودانولو دپاره د روح القدس له خوا ورکړل شوي دي، فرق شته. هغه دوه استعارې چې پولوس يې د کلیسا په هکله بیانوي دا دي چې دغه یووالی د خدای سپېڅلی کور دی چې د خدای روح په کې اوسيږي او یو نوی بدن دی چې نوی فطرت لري چې د خدای په شکل کې بیا جوړ شوی دی.

له دې امله چې ایمانداران د روح القدس نه ډک دي، نو د هغوی ژوند بدل شوی دی ترڅو دوی روحاني سندرې ووايي، شکرګزاري وکړي او د يو بل تابعدار اوسي او يو بل ومني. پولوس بیانوي چې د روح القدس نه ډکېدل څنګه په ښځه او خاوند، پلارولی او مورولی او د غلامانو او بادارانو ترمنځ په اړيکو باندې اغېزه کوي. هغه دا لیک په دې خبرو سره پای ته رسوي چې داسې بد روحاني قوتونه شته چې د نوي انسانیت او فطرت په وړاندې چې مونږ يې لرو، جنګیږي او د زغرو د استعارې نه کار اخلي چې دا تعلیم ورکړي چې څنګه باید په دنیا کې د بدیو په وړاندې ټینګ ودریږو.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱:۱-۲

مسیح او د کلیسا اړيکې: ۱:۳ - ۳:۲۱

په مسیح کې نوی ژوند: ۴:۱ - ۶:۲۰

اخرنی خبرې: ۶:۲۱-۲۴

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلامونه

١ ١ دا لیک د پولوس له خوا چې د خدای په ارادې د عیسی
مسیح رسول دی، د خدای هغو خلکو ته چې د افسیس په ښار کې
دي او عیسی مسیح ته وفادار دي. ٢ زموږ د پلار خدای او
څښتن عیسی مسیح فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## په مسیح کې روحاني برکتونه

٣ ثنا او صفت دې وي خدای ته یعني زموږ د څښتن عیسی
مسیح پلار ته چې موږ ته یې په مسیح کې په اسماني ځایونو کې هر
ډول روحاني برکتونه راکړي دي. ٤ ځکه چې هغه موږ د دنیا د
پیدایښت نه مخکې په مسیح کې غوره کړو، ترڅو د هغه په نظر کې
سپېڅلي او بې‌عیبه واوسو. ٥ د خپلې ارادې او خوښې له مخې
یې په مینه د مخکې نه پرېکړه کړې ده چې د عیسی مسیح په وسیله
موږ د خپلو اولادونو په توګه قبول کړي. ٦ خدای داسې وکړل،
ترڅو موږ ته د هغه د جلال نه ډک فضل دپاره چې موږ ته یې په
خپل ګران زوی کې په سخاوتمندانه توګه راکړی دی، ثنا ووایو. ٧
د هغه د ډېر زیات فضل له مخې موږ په هغه کې د هغه د زوی د
وینې په وسیله خلاصون وموند، یعني سرغړونې مو وبخښل شوې،
٨ چې هغه په ټول حکمت او پوهې سره په پرېمانه توګه موږ ته
راکړ. ٩ خدای موږ ته د خپلې ارادې پټ راز ښکاره کړ او د
خپلې خوښې له مخې یې د عیسی مسیح په وسیله دا مقصد پوره کړ.
١٠ دا نقشه به په یو سم وخت کې پوره کېږي چې هغه ټول شیان
که په اسمان کې دي یا په ځمکه کې د مسیح د واک او اختیار لاندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره يوځای شي.

۱۱ خدای چې هرڅه د خپلې ارادې او مقصد له مخې سرته
رسوي، مونږ يې غوره کړو چې په مسيح کې د هغه خپل خلک
واوسو، ځکه چې مونږ يې د مخکې نه د خپلې ارادې له مخې غوره
کړي وو. ۱۲ نو بيا مونږ چې لومړني خلک وو چې مسيح ته
هيله‌من شولو، بايد د هغه د جلال او لويی ثنا او صفت وکړو. ۱۳
تاسو هم چې کله رښتينی کلام يعنې خپل د خلاصون زېری واورېد
او په هغه باندې مو ايمان راوړ، نو خدای تاسو ته د روح القدس په
درکولو سره چې مخکې يې وعده کړې وه، په تاسو باندې د خپل
ملکيت مهر ولګاوه. ۱۴ همدا روح دی چې د خدای له خوا مونږ
ته د هغه د ميراث ضمانت دی چې مونږ به يې ترلاسه کوو. خدای
مونږ په بيه واخيستلو چې د هغه خلک واوسو، ترڅو د هغه د جلال
او لويی صفت وشي.

## د پولوس رسول دعا

۱۵ له دې امله کله چې زه ستاسو د ايمان نه چې په ښښتن عيسی
باندې يې لرئ او د هغې مينې نه چې د خدای د ټولو خلکو سره يې
کوئ، خبر شوم، ۱۶ نو ستاسو په خاطر مې خدای ته شکر کول
پرېنښودل او تاسو تل په خپلو دعاګانو کې يادوم. ۱۷ زه د ښښتن
عيسی مسيح د خدای څخه چې د جلال نه ډک پلار دی، غواړم چې
هغه تاسو ته د حکمت او مکاشفې روح درکړي، ترڅو هغه په ښه
توګه وپېژنئ. ۱۸ زه دعا کوم چې ستاسو د زړونو سترګې دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روښانه شي، ترڅو په دې پوه شئ چې هغه تاسو په کومې هیلې سره
رابللي یئ یعنې هغه پرېمانه او شانداره میراث ته چې هغه خپلو
خلکو ته ساتلی دی، ١٩ او په دې هم پوه شئ چې زمونږ
ایماندارانو دپاره د هغه قدرت څومره بې‌حده او ډېر لوی دی. ٢٠
دا هماغه لوی قدرت دی چې هغه ترې کار واخیست کله چې مسیح
یې د مړو نه بېرته راژوندی کړ او په اسماني ځایونو کې یې خپل ښي
لاس ته کښېناوه ٢١ او هغه یې د هر حکومت، د واک خاوند، هر
قدرت او بل هر لوړ مقام نه چې کولای شو نوم یې واخلو اوچت کړ،
یوازې په دې دنیا کې نه بلکې په راتلونکې دنیا کې هم. ٢٢ خدای
ټول شیان د مسیح په اختیار کې ورکړل او هغه یې د کلیسا دپاره د
ټولو شیانو سر کړ ٢٣ او کلیسا د مسیح بدن دی چې په خپله د
مسیح په وسیله کامل کیږي او په همدې وخت کې کاینات د خپل
حضور نه ډکوي.

## د روحاني مرګ څخه ژوند ته

٢ ١ تاسو یو وخت د خپلې سرغړونې او ګناهونو له امله مړه
وئ، ٢ او د دې دنیا په کړو لارو باندې روان وئ او د فضا د
روحاني قدرتونو د واکمن یعنې د هماغه روح څخه مو پیروي کوله
چې اوس په نافرمانو خلکو کې کار کوي. ٣ یو وخت مونږ هم
لکه د هغوی په شان د خپلو جسماني غوښتنو له مخې ژوند تېراوه او
خپلې نفساني او فکري غوښتنې مو پوره کولې. مونږ هم لکه د نورو
انسانانو په شان په طبیعي توګه د خدای د غضب لایق وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ خو خدای چې په رحم غني دی زمونږ سره يې ډېره مينه
وکړه، ۵ حتی کله چې مونږ د خپلو سرغړونو له امله مړه شوي
وو، هغه مونږ د مسيح سره يوځای د مړو نه راپورته کړو، نو د هغه د
فضل په وسيله تاسو خلاصون وموند. ۶ خدای مونږ د عيسی
مسيح سره په يووالي کې هم په روحاني توګه د مړو نه راپورته کړو
او مونږ يې د هغه سره په اسماني ځايونو کې کښېنولو. ۷ هغه
داسې وکړ، ترڅو په راتلونکو زمانو کې د خپل فضل لويه او بې‌حده
شتمني د خپلې مهربانۍ له مخې په عيسی مسيح کې مونږ ته ښکاره
کړي. ۸ ځکه چې تاسو د خدای د فضل په سبب او ايمان له
لارې خلاصون موندلی دی او دا ستاسو خپل کار نه دی بلکې دا د
خدای يو نعمت دی. ۹ خلاصون ستاسو د کار نتيجه نه ده، نو
هېڅوک وياړ نه شي کولای. ۱۰ ځکه چې مونږ د هغه په لاس
جوړ شوي يو او په عيسی مسيح کې د نېکو کارونو دپاره پيدا شوي
يو چې خدای د مخکې نه زمونږ دپاره تيار کړي وو، ترڅو سرته يې
ورسوو.

## په مسيح کې يووالی

۱۱ نو له دې امله ياد ساتئ چې يو وخت تاسو غيريهوديان د سنت
شويو په نظر کې چې دا خپله يو جسماني عمل دی او د انسان په
وسيله سرته رسيږي، ناسنت شوي ګڼل کېدلئ. ۱۲ ياد ساتئ چې
تاسو په هغه زمانه کې د مسيح نه بېل وئ او د اسراييلو په قوم کې
شامل نه وئ او تاسو د خدای د هغو لوظونو نه بې‌برخې وئ چې د
هغې وعدې له مخې شوي وو چې خدای د خپلو خلکو سره کړې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وه. تاسو په دې دنيا کې نااميده او د خداى نه لرې ژوند کاوه. ١٣
خو اوس تاسو په عيسى مسيح کې چې يو وخت د خداى نه لرې
وئ د هغه د وينې په وسيله هغه ته نژدې شوي يئ. ١۴ ځکه چې
مسيح زمونږ سوله او سلامتي ده او هغه دوه ډلې سره يو کړلې او د
خپل بدن په وسيله يې د دښمنۍ هغه دېوال وران کړ چې هغوى يې
سره بېل کړي وو. ١۵ هغه شريعت د هغه د حکمونو او مقرراتو
سره منسوخ کړ، ترڅو په خپل بدن کې د دې دوه ډلو نه يو نوى قوم
جوړ کړي او سوله او سلامتي راولي. ١۶ مسيح په صليب باندې د
خپل مرګ په وسيله دواړه ډلې په يو بدن کې د خداى سره پخلا
کړې، ترڅو د يهوديانو او غيريهوديانو دښمني له منځه يوسي. ١٧
هغه راغى ترڅو د سولې او سلامتۍ زېرى تاسو ته چې د خداى نه
لېرې وئ او هغوى ته چې خداى ته نژدې وو، اعلان کړي. ١٨
ځکه چې مونږ دواړه د مسيح په وسيله په يو روح القدس کې پلار
خداى خواته ورنژدې کېږو.

١٩ نو نور تاسو پردي او مسافر نه يئ بلکې د خداى د خلکو
وطنداران او د خداى د کورنۍ غړي يئ. ٢٠ تاسو د رسولانو او
پيغمبرانو په بنياد جوړ شوي يئ چې عيسى مسيح په خپله د هغه
بنياد اصلي تيږه ده. ٢١ په هغه کې د ودانۍ ټولې برخې سره
يوځاى کېږي او په ښتن کې ترې يو سپېڅلى کور جوړېږي او وده
کوي. ٢٢ نو ستاسو نه هم په هغه کې د نورو سره يو کور جوړېږي
چې خداى د خپل روح په وسيله په هغه کې اوسيږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د غیریهودیانو دپاره د پولوس رسول کار

۳ ۱ په همدې دلیل زه پولوس چې ستاسو غیریهودیانو او د
عیسی مسیح په خاطر بندي یم، تاسو دپاره دعا کوم. ۲ تاسو به
خامخا اورېدلي وي چې خدای د خپل فضل له مخې ماته دا وظیفه
راکړې ده چې ستاسو دپاره یې سرته ورسوم. ۳ لکه څنګه چې
ما تاسو ته مخکې په لنډه توګه ولیکل، دا پټ راز خدای په خپله د
الهام په وسیله ماته ښکاره کړ. ۴ ما چې تاسو ته څه لیکلي دي،
که چېرې تاسو هغه ولولئ، نو پوه به شئ چې زه د مسیح د پټ راز
څخه خبر یم. ۵ دا راز په پخوا زمانو کې انسانانو ته داسې نه ؤ
ښکاره شوی لکه څنګه چې اوس د روح القدس په وسیله د خدای
سپېڅلو رسولانو او پیغمبرانو ته ښکاره شوی دی. ۶ هغه راز دا
دی چې غیریهودیان د زېری په وسیله د یهودیانو سره په میراث کې
شریک دي، دواړه د یو بدن غړي او په هغې وعدې کې شریک دي
چې خدای په عیسی مسیح کې زمونږ سره کړې ده.

۷ زه د خدای د فضل د نعمت په وسیله چې ماته یې د خپل
قدرت په کارولو سره راکړی دی، د زېری خدمتګار شوم. ۸ که
څه هم زه د خدای په ټولو خلکو کې کوچنی یم، خو دا فضل یې په
ما کړی دی چې زه غیریهودیانو ته د مسیح د بې‌حده شتمنۍ زېری
ورکړم ۹ او هغه پټه نقشه ټولو خلکو ته ښکاره کړم چې خدای د
ټولو شیانو خالق دا راز د ازل نه پټ ساتلی ؤ. ۱۰ د خدای مقصد
دا ؤ چې اوس د خپل حکمت مختلف اړخونه د کلیسا په وسیله
حاکمانو او د واک خاوندانو ته په اسماني ځایونو کې ښکاره کړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ د دې پټ راز ښکاره کول هغه ابدي مقصد ؤ چې خدای زمونږ
د څښتن عیسی مسیح په وسیله عملي کړ. ١٢ نو مونږ په مسیح کې
او په هغه باندې د ایمان په وسیله په زړورتیا او باور سره کولای شو
چې د خدای حضور ته ورشو. ١٣ نو زه ستاسو نه غوښتنه کوم
چې زما د کړاوونو په خاطر چې ستاسو دپاره یې تېروم مه بې‌زړه
کېږئ، ځکه چې دا ستاسو د سرلوړۍ سبب کېږي.

## د عیسی مسیح مینه

١٤ په همدې دلیل زه د پلار په مخکې په ګونډو کېږم، ١٥ د هغه
چا په مخکې چې هره کورنۍ په اسمان او ځمکه کې خپل نوم د هغه
څخه اخلي. ١٦ زه دعا کوم چې هغه تاسو ته د خپل لوی جلال له
مخې هغه قوت درکړي چې تاسو په خپل باطن کې د هغه د روح په
وسیله قوي شئ. ١٧ همدارنګه زه دعا کوم چې ستاسو د ایمان په
وسیله مسیح ستاسو په زړونو کې واوسېږي. زه دعا کوم چې د
خدای مینه په تاسو کې رېښې وځغلوي او د مینې په بنیاد ودان شئ،
١٨ ترڅو تاسو د خدای د ټولو خلکو سره یوځای دا توان ولرئ
چې په دې پوه شئ چې د مسیح مینه څومره پراخه، اوږده، اوچته او
ژوره ده ١٩ ترڅو د مسیح هغه مینه وپېژنئ چې د پوهې نه لوړه ده
او تاسو په پوره توګه د خدای د کامل فطرت او خوی نه ډک شئ.

٢٠ جلال دې وي هغه چاته چې په خپل قدرت سره کولای شي د
هغه څه نه چې مونږ ډېر زیات غواړو او ګومان یې کوو په مونږ کې
زیات کار کوي. ٢١ هغه ته دې په کلیسا او په عیسی مسیح کې تل
ترتله په ټولو نسلونو کې جلال وي. امین.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ایماندارانو ترمنځ یووالی

۴ ۱ نو زه چې د څښتن په خاطر بندي يم، ستاسو نه غوښتنه
کوم چې داسې ژوند وکړئ چې د هغې بلنې وړ وي چې تاسو
ترلاسه کړې ده. ۲ تل په عاجزی، نرمی، صبر او په مینې سره یو
بل وزغمئ. ۳ ډېر کوښښ وکړئ هغه یووالی وساتئ چې روح
القدس یې په سوله او سلامتۍ کې رامنځته کوي. ۴ لکه څنګه
چې یو بدن او یو روح القدس دی، نو همداسې یوه هیله ده چې
خدای تاسو ورته رابللي یئ. ۵ یو څښتن دی، یو ایمان او یو د
تعمید غسل، ۶ یو خدای چې د ټولو پلار او د ټولو نه اوچت دی،
زمونږ د ټولو په وسیله کار کوي او په ټولو کې اوسیږي.

۷ خو مونږ هر یو ته د مسیح د سخاوت له مخې یو نعمت راکړل
شوی دی. ۸ له همدې امله لیکل شوي دي:

کله چې پورته لوړو ځایونو ته ورو خوت،

یووړل یې له ځانه سره زیات بندیان

او خلکو ته یې ورکړل نعمتونه

۹ کله چې وايي: «هغه پورته لوړو ځایونو ته ورو خوت» د دې
معنی څه ده، ایا معنی یې دا نه ده چې هغه مخکې د ځمکې ډېر
ښکته ځای ته کوز شوی ؤ؟ ۱۰ نو بیا هغه څوک چې ښکته راکوز
شو، دا هماغه دی چې د ټولو اسمانونو نه پورته وخوت، ترڅو ټول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاینات د خپل حضور نه ډک کړي. ۱۱ دا خپله هماغه څوک ؤ
چې خلکو ته يې نعمتونه ورکړل چې ځينې يې رسولان، ځينې يې
پيغمبران، ځينې يې زېري رسوونکي، ځينې يې شپانه او ښوونکي
وټاکل. ۱۲ هغه داسې وکړل ترڅو د خدای خلک د کار او خدمت
دپاره تيار کړي، د دې دپاره چې د مسيح بدن ته وده ورکړي، ۱۳
ترڅو مونږ ټول هغه يووالی چې په ايمان او د خدای د زوی په پوره
پېژندلو کې دی، ترلاسه کړو او په ايمان کې بالغان شو او د مسيح په
اندازه کامل شو. ۱۴ نو نور به مونږ ماشومان نه يو چې د څپو په
وسيله اخوا دې خوا وغورځول شو او د انساني هر ډول تعليم د باد
په وسيله دلته او هلته يووړل شو او نه به نور د خلکو د چالاکۍ او د
ټګۍ نه ډکو دسيسو له امله بې‌لارې کېږو. ۱۵ نو د دې په ځای
مونږ بايد په مينه حقيقت ووايو او په هر حال کې په مسيح کې چې
سر دی، وده وکړو. ۱۶ د هغه تر لاس لاندې د بدن ټول غړي د
هغو بندونو په وسيله چې د هغو دپاره تيار شوي دي، سره يوځای
کوي او نښلوي. کله چې د بدن هر غړی په مناسب ډول خپل کار
کوي، نو ټول بدن وده کوي او په مينه خپل ځان جوړوي.

## په مسيح کې نوی ژوند

۱۷ زه تاسو ته د څښتن په نوم دا وايم او په هغې باندې ټينګار
کوم چې تاسو بايد نور د غيريهوديانو په شان چې په خپلو باطلو
خيالونو کې اوسيږي، ژوند ونه کړئ. ۱۸ هغوی د خپلو خيالونو په
تيارو کې ډوب دي. هغوی د هغه ژوند نه چې خدای يې ورکوي،
بې‌برخې شوي دي، ځکه چې هغوی جاهلان او زړونه يې سخت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي. ۱۹ هغوی خپل د شرم احساس له لاسه ورکړی او خپل
ځانونه يې عياشی ته تسليم کړي دي او په شوق سره هر ډول ناپاکه
کارونه کوي.

۲۰ خو دا هغه څه نه دي چې تاسو د مسيح په هکله زده کړي
دي. ۲۱ څرنګه چې تاسو بې له شکه د عيسی په هکله اورېدلي
دي او هغه حقيقت مو زده کړی دی چې په هغه کې دی، ۲۲ نو
تاسو د خپل د ګناه نه ډک زوړ فطرت او د ژوند تېرولو د پخوانی
لارې څخه چې د نفساني غوښتنې او غولونې له امله فاسدې شوې
دي، لاس واخلئ. ۲۳ خو پرېږدئ چې ستاسو روحونه او ذهنونه
په کامله توګه نوي شي ۲۴ او تاسو د نوي فطرت لباس واغوندئ
چې په رښتيني عدالت او پاکوالي کې د خدای په څېره کې پيدا شوی
دی.

۲۵ نو بيا د دروغ ويلو نه لاس واخلئ او يو بل ته رښتيا وايئ،
ځکه چې مونږ ټول د يو بدن غړي يو. ۲۶ د قهر په وخت کې ګناه
مه کوئ او مه پرېږدئ چې ستاسو قهر د لمر پرېوتولو پورې دوام
وکړي ۲۷ او شيطان ته موقعه مه ورکوئ چې تاسو وسوسه کړي.
۲۸ غل دې نوره غلا نه کوي، بلکې د هغې په ځای دې زحمت
وباسي او په خپلو لاسونو دې صادقانه کار وکړي، ترڅو د هغه سره
هم يو څه وي چې محتاجو خلکو ته يې ورکړي. ۲۹ مه پرېږدئ
چې د خولې نه مو بدې خبرې راووځي، بلکې ستاسو خبرې دې
ښې، په خپل وخت او د نورو دپاره مرسته کوونکې وي. نو څوک
چې ستاسو خبرې واوري، د هغوی دپاره به د فضل سبب شي. ۳۰

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خدای روح القدس مه خفه کوئ، چا چې په تاسو باندې د خدای د
ملکیت مهر لګولی دی او د هغې ورځې ضمانت دی چې تاسو به په
کې خلاصون ومومئ. ۳۱ د تریخوالي، قهر، غضب، شورماشور، تور
لګولو او هر ډول بدی نه لاس واخلئ. ۳۲ د دې په ځای په یو بل
مهربانه او زړه سواندي اوسئ او لکه څنګه چې خدای په مسیح کې
تاسو وبخښلئ، نو تاسو هم یو بل وبخښئ.

## په رڼا کې ژوند

**۵** ۱ لکه د خدای د ګرانو اولادونو په شان د هغه نه پیروي
وکړئ. ۲ په مینې سره ژوند وکړئ، لکه څنګه چې مسیح زمونږ
سره وکړه او خپل ځان یې زمونږ دپاره د خوشبویه نذرانې او قربانۍ
په توګه خدای ته وړاندې کړ.

۳ خو ستاسو په ھکله دې د هیڅ ډول جنسي بداخلاقۍ او حتی
د هیڅ ډول ناپاکۍ او حرص خبرې نه وي، ځکه چې دا د خدای د
خلکو سره مناسب نه دي. ۴ په تاسو کې دې چټلې، کمعقلې
خبرې او یا بېادبه ټوکې هم نه وي، ځکه چې دا ټولې بېځایه خبرې
دي، بلکې د هغو په ځای د خدای شکر ادا کړئ. ۵ ډاډه اوسئ
چې هیڅ ډول جنسي بداخلاق، ناپاک یا حریص انسان ته (ځکه چې
حرص یو ډول بتپرستي ده) د مسیح او خدای په پاچاهۍ کې
میراث نشته.

۶ مه پرېږدئ چې څوک مو په پوچو او بېمعنی خبرو وغولوي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې د همدې شيانو له امله د خدای غضب په هغو خلکو باندې
نازلېږي چې نافرمانه وي. ٧ نو د داسې خلکو سره په کارونو کې
مه شريک کېږئ. ٨ که څه هم تاسو يو وخت په تياره کې وئ،
خو اوس په څښتن کې په رڼا کې يئ. نو د رڼا د اولادونو په شان
ژوند کوئ. ٩ ځکه چې د رڼا مېوه نېکي، عدالت او حقيقت دی.
١٠ کوښښ وکړئ، ترڅو دا معلومه کړئ چې څښتن په څه شي
خوشحالېږي. ١١ د تيارې په بې‌ګټې کارونو کې برخه مه اخلئ،
بلکې هغه رسوا کړئ. ١٢ حتی د هغو کارونو په هکله خبرې کول
چې هغوی يې په پټه کوي، هم د شرم خبره ده. ١٣ خو په کوم شي
باندې چې رڼا وځلېږي، نو هغه به ښکاره شي، ١۴ ځکه چې رڼا
هرڅه ښکاره کوي. نو له همدې امله ويل شوي دي:

ای ويده، راويښ شه

او د مړو نه راپاڅېږه

نو د مسيح رڼا به په تا باندې وځلېږي.

١۵ نو پام کوئ چې څه ډول ژوند کوئ. د کم‌عقلو په شان ژوند مه
کوئ، بلکې د هوښيارانو په شان ژوند کوئ. ١۶ د هرې موقعې نه
ښه ګټه واخلئ، ځکه چې زمانه خرابه ده. ١٧ نو کم‌عقل کېږئ مه،
بلکې په دې ځان پوه کړئ چې د څښتن رضا څه ده. ١٨ په شرابو
ځانونه مه مستوئ، ځکه چې ستاسو ژوند تباه کوي، بلکې د روح
القدس نه ډک شئ. ١٩ د يو بل سره زبورونه، مذهبي او روحاني
سندرې وايئ او د زړه له کومې څښتن ته سندرې او خوږې نغمې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وایئ. ۲۰ د هرڅه دپاره تل پلار خدای ته زمونږ د څښتن عیسی
مسیح په نوم شکر وباسئ.

## د ښځو او مېړونو ترمنځ اړیکې

۲۱ همدارنګه مسیح ته د درناوي په خاطر د یو بل تابعداري کوئ.
۲۲ ای ښځو، د خپلو مېړونو داسې تابعدارې اوسئ لکه څنګه چې
د څښتن عیسی مسیح تابعداري کوئ. ۲۳ ځکه چې هر مېړه د
خپلې ښځې سر دی لکه څنګه چې مسیح د کلیسا یعنې د خپل بدن
سر دی او هغه خپله د هغې خلاصوونکی دی. ۲۴ نو لکه څنګه
چې کلیسا د مسیح تابع ده، همداسې دې ښځې هم په هر شي کې د
خپلو مېړونو تابع اوسي.

۲۵ ای مېړونو، د خپلو ښځو سره داسې مینه کوئ لکه څنګه چې
مسیح د کلیسا سره کوله او خپل ځان یې د هغې دپاره قربان کړ.
۲۶ هغه داسې وکړل، ترڅو کلیسا د اوبو او کلام په وسیله ووینځي
او هغه پاکه او سپېڅلې کړي. ۲۷ هغه داسې وکړل، ترڅو د ځان
دپاره داسې د شان او شوکت نه ډکه کلیسا تیاره کړي چې بېداغه،
بېګونجې او کوم بل عیب په کې نه وي، بلکې سپېڅلې او بېعیبه
وي. ۲۸ همدارنګه مېړونه باید د خپلو ښځو سره داسې مینه وکړي
لکه څنګه چې د خپل بدن سره یې کوي. هرڅوک چې د خپلې
ښځې سره مینه کوي، نو د خپل ځان سره مینه کوي. ۲۹ هېڅوک
هم د خپل بدن نه کرکه نه کوي بلکې هغه ته خواړه ورکوي او پام
ورباندې کوي، لکه څنګه چې مسیح یې د کلیسا دپاره کوي، ۳۰
ځکه چې مونږ د هغه د بدن غړي یو. ۳۱ لکه څنګه چې د خدای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په کلام کې ليکل شوي دي:

له همدې امله سړی خپل مور او پلار پرېږدي او د خپلې ښځې سره يوځای کيږي او دواړه يو بدن شي.

۳۲ دا يو لوی راز دی او زه د مسيح او کليسا په هکله خبرې کوم.
۳۳ خو په هر حال، په تاسو کې دې هر مېړه بايد د خپلې ښځې سره د خپل ځان په شان مينه وکړي او هره ښځه هم بايد د خپل مېړه درناوی وکړي.

## د اولادونو، ميندو او پلرونو ترمنځ اړيکې

**۶** ۱ ای اولادونو، د څښتن د پيروانو په توګه د خپل مور او
پلار منونکي اوسئ، ځکه چې دا سم کار دی. ۲ دا لومړی حکم
دی چې په کې وعده شوې ده: «د خپل مور او پلار عزت کوئ.» او
د هغه وعده دا وه: ۳ «نو تاسو به نېکمرغه يئ او په دنيا کې به
زيات عمر ولرئ.»

۴ ای پلرونو، تاسو د خپلو اولادونو سره داسې چلند مه کوئ چې هغوی په قهر شي، بلکې د څښتن په طريقه هغوی اصلاح کړئ او روزنه يې وکړئ.

## د بادارانو او غلامانو ترمنځ اړيکې

۵ ای غلامانو، په داسې وېره او لړزېدلو سره د زړه د اخلاصه د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو دنیاوي بادارانو تابعداري کوئ، لکه څنګه چې د مسیح تابعداري کوئ. ۶ دا تابعداري یوازې د دې دپاره مه کوئ چې کله هغوی تاسو څاري او تاسو هغوی خوشحاله کوئ، بلکې د مسیح د غلامانو په توګه د زړه له کومي د خدای رضا پوره کوئ. ۷ په شوق سره خدمت کوئ، داسې لکه چې د څښتن خدمت کوئ، نه د انسان. ۸ ځکه تاسو پوهېږئ چې څښتن هر یو ته د ښو کارونو له مخې اجر ورکوي، که هغه غلام وي یا ازاد.

۹ ای بادارانو، تاسو هم د خپلو غلامانو سره همداسې چلند کوئ. ګواښونه پرېږدئ. یاد ساتئ چې تاسو دواړه په اسمان کې یو بادار لرئ او هغه د هېچا طرفداري نه کوي.

## د خدای کاملې زغرې واغوندئ

۱۰ اخر دا چې په څښتن او د هغه په لوی قدرت کې قوي اوسئ.
۱۱ د خدای هغه کاملې زغرې واغوندئ چې تاسو ته یې تیارې کړې دي، ترڅو وکولای شئ د شیطان د دسیسو په وړاندې ټینګ ودرېږئ. ۱۲ ځکه چې زموږ جنګ د انسان سره نه دی، بلکې د حاکمانو، د واک د خاوندانو، د دې تیارې دنیا د واکمنو قدرتونو او په اسماني ځایونو کې د بدو روحاني قوتونو په خلاف دی. ۱۳ له همدې امله تاسو د خدای کاملې زغرې واغوندئ، ترڅو وکولای شئ په هغه بده ورځ د دښمن په وړاندې کلک ودرېږئ او د جنګ تر پایه ټینګ پاتې شئ.

۱۴ نو بیا ټینګ ودرېږئ او د حقیقت پټی د ملا نه وتړئ او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عدالت زغره واغوندئ. ۱۵ خپل بوټان د سولې او سلامتۍ د زېرې
د خپرولو دپاره په پښو کړئ ۱۶ او د دې ټولو سره د ايمان سپر
راواخلئ، ترڅو د هغه په وسيله وکولای شئ چې د شيطان اور
لرونکي غشي تباه کړئ. ۱۷ د خلاصون هغه د زغرو خولۍ او د
روح القدس توره چې د خدای کلام دی، راواخلئ. ۱۸ هر وخت د
روح القدس په لارښوونه دعا او زارۍ کوئ. د همدې دپاره بېداره
اوسئ او تل د خدای د ټولو خلکو دپاره دعا کوئ. ۱۹ زما دپاره
هم دعا وکړئ چې کله زه خبرې کوم، ماته خدای د وينا توان راکړي
او وکولای شم په زړورتيا سره د زېرې پټ راز اعلان کړم. ۲۰
ځکه چې د همدې زېرې په خاطر په زنځيرونو تړل شوی استازی
يم، نو دعا کوئ لکه څنګه چې لازمه ده هغه په زړورتيا سره اعلان
کړم.

## اخرنۍ خبرې

۲۱ تيخيکاس چې زمونږ ګران ورور او د ښښتن وفادار خدمتګار
دی، هغه به تاسو ته هرڅه ووايي، ترڅو تاسو پوه شئ چې زه څنګه
يم او څه کوم. ۲۲ ما هغه تاسو ته د دې مقصد دپاره درولېږه چې
تاسو زمونږ د حال او احوال نه خبر کړي او ستاسو زړونو ته
ډاډګېرنه درکړي. ۲۳ پلار خدای او ښښتن عيسی مسيح دې ټولو
خويندو او ورونو ته سلامتي او د ايمان سره مينه ورکړي. ۲۴ د
خدای فضل دې وي په هغو ټولو چې زمونږ د ښښتن عيسی مسيح
سره نهختمېدونکې مينه لري.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
افغانستان ۲۰۲۳ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.